

# د کلي ژوند

لومړی شعري ټولګه

Download from:aghalibrary.com

شاعر
نورګل اندړوال

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب ځانګړتياوې

د کتاب نوم: د کلي ژوند
شاعر: نورګل اندړوال
کمپوز: ذاکرالله احساس
ډيزاين:
چاپشمېر: ۱۰۰۰ټوکه
کال: ۱۳۵۹ ل.ل 2017 م

د چاپ حقوق خوندي دي !

www.samsoor.com

ډالۍ

د کلي ژوند لومړۍ شعري ټولګه
هغو ته چې بې خاري او بې پرې مینه له شعر، شاعرۍ
او زما له شعرونو سره لري.
په ټولې پښتنه مینه

نورګل اندړوال

www.samsoor.com

اندړوال او شاعري يې !
د خدای په دې آرته او لويه دنيا کې چې مځکه او آسمانونه يې
د بشر د استفادې لپاره پيدا کړی د د اسې چا په هکله خبرې
کوم چې هغه اخلاقي ، صميمي ، مينه ناکه انسان ، تکړه
او ځوان شاعر ،ليکوال او د هيواد د تلويزيون د خبريال نورګل
اندړوال ده.
اندړوال ماهغه وخت و پيژانده چې د مرکزي بغلان په نوي
ښار کې د کوړ چنار آدبي بهيرګډونوال و.د ده په شعرونو کې
مينه ، احساسات ، عاطفه او قوي تخيل پروت دی چې تل
يې د موجوده حالات او ناخوالې بيان کړي دي زه د اندړوال
په شخصي ژوند خبره نه کوم خود ده د ګوتو په شمار غزلو
باندې خپل نظر ليکم.
وايي چې ! بڼ يو او ګلونه يې هررنګ ، هرګل د ځانه سره
ښايست او ښکلا لري ، بوی او عطر يې د بشر دماغ ته قوت
ورکوي. نثر او نظم هم په دغه مانا ده چې په لوستلو سره يې
د انسان آدبي تنده خړوبيږي ، د زړه د تسکين سبب ګرځي
او هغه د مينې ، محبت څرګندونې چې په طنزيه ډول
د اندړوال په غزل کې بيان شوي دي .د وطن سره په مينه کې
ژړيدلی او خپلې سوزيدلې هيلې د اسې بيانوي لکه

دابیتونه.

لکه څو هیلې چې د چا د ننه زړه کې سوځي

داسې مې اوښکې دوجود په ګریوانه کې سوځي

دښا یست برج نه دې شغلې دښکلاګانو وځی

په تا بایللي زړونه خلک ستا په وره کې سوځي

ښایي چې داندړوال په لیکنه کې زیاتی او کمی وي خوهغه

پرېږدو د کلي ژوندلوستونکوته چې قضاوت پرې

وکړي.دغه راز اندړوال دوخت دناخوالوهم ځوریدلی

ښکاري دظلم اودټولنې ستونزو دخپل وجود دتن په رګوکې

ورک کړی ده.

دځان قاتل رانه دخپل وجود رګوکې ورک ده

افغانستان شومه هرچاتروس رټلی یمه

اندړوال له وطنه لرې والی اوهم دهجرتورو تنبوکې لکه

پرون اونن بې داغه نه دی پاتې او ځان دخپلو وطنوالو په

درد اوغم کې هم دردیدلی ګڼي.

دهجرخاردې دوختو په داغوداغلم

یاره ظالمه داخه اورته دې نیولی یمه

شاعر دنن اوپرون وخت اوددې دورجبراوبې عدالتي پرځای

خلک یو والي لپاره د خپلو هیوادوالو له بد مرغۍ نه
سوکالۍ ته پیغام په غزلیزه توګه داسې څرګندوي.

نوی د ځوانۍ په شراو شــور ده درپکار به شي
بې ګنا یې مه وژنه ستا ورور ده درپکار به شي

بم د پردي مه راوړه دا چــم وربانديې مه نړو
جوړې پکې زما د ختـــو کورده درپکار به شي

تول پښتون تاجک ایماق کجر سره یو موټی کړه
هر یو دې د خپلو لاسو زور ده درپکار به شي

نورګل اندړوال په خپلو شعرونو کې د قافیې اوردیف راوړل هم په ښکلي انداز سره مراعات او ښکلا وربښلې لکه دابیت.

دمینې په آسمان چې ستورې وشپې خبرې وکړي
خندا شي خوشالي شي آینې خبرې وکړي
سړی چې له سړونه سړیپالې ځیرې واخلي
سړي له غمه مړه شي څو سړې خبرې وکړي.

دنورګل اندړوال دنورو خوږو غزلو دلیکلو په هیله.

په خورا درنښت
جمعه خان توخی

د کلي ژوند

هغه کلمه چې دژوندراز ونیاز مې له همدې ځایه پیل شوی !

شعراو شاعري د هنرترټولو پیچلی او سخت فن دی او په دې برخه کې هرڅوک کارنه شي کولای که یو شاعر یاکوم بل لوستی کس وغواړي یو ښه نثرولیکي ناشونې خبره نه ده خوکه یو نثرلیکونکی وغواړي یو ښه شعرولیکي ناشونې خبره ده. هوتریوحده به الفاظ سره راغونډ اوپیوندبه یې کړي خوڅنګه یې چې شاعرغواړي هغه شان یې نه شي راغونډولی. د کلي ژوند د ګران اوځوان شاعرنورګل اندړوال شعري ټولګه ده اندړوال صاحب له نژدې پیژنم د یوه ښه احساس خاوند دي تل د خپل ولس درد ، غم او په ټولنه کې د شته فساد او ناپوهي څخه ځوریږي لکه دا بیت یې

ناپوهه خاوره اندړواله شوه له زده کړو تښتو
ځینو ته سپینه کتابچه بم قلم تیر ښکاري

www.samsoor.com

اندړوال صاحب د دې ترڅنګ له خپلې خوږې ژبې
پښتو سره دومره له حده زیاته مینه لري چې په هره غونډه
کې ګډون کوي د خپلې ژبې د ښه اینې خوبونه وینې.

خبره را لنډوم د اندړوال صاحب شاعري مې په دې خوښه ده
چې په شعر کې یې نوښت، هنر، موسیقي، کیفیت او
ارزښت پروت دی او په کلیوالي ژبه یې د کلي و
کور د ستونزو ترجماني په پیلیو کلماتو کې کړې.

ستړو کوچیانو پکې نوې کورکې جوړ کړي
جانانه راشه سره وکړو پکې شپې د مینې

نورستاسې او د کلي ژوند د شعري ټولګې ترمنځ خنډ نه
ګرځم او تاسې یې لوستلو ته رابولم
د ګران او ځوان شاعر نورګل اندړوال د نوروبریاوو په هیله.

په خورا درنښت
حاجي ذکر الله ملنګ

www.samsoor.com

د ادب او د ژبې د بډا اینې په برخه کې لو مړنۍ خوشحالۍ چې له زیاتې خوښۍ نه مې ګوتې له لیکلو عاجزه پاتې شوې د ځوان شاعرنورګل اندړوال د شعري ټولګې د کلي ژوند د کتاب د چاپ د چارو پیلیدل و.
ترکومه چې زه اندړوال پیژنم د پښتو شعر او شاعرۍ سره یې له ماشومتوب څخه مینه درلوده او دغه مینه دده زیار، تفکر، استعداد او وړتیا څرګندوي. د کلي ژوند کې لیکلي شعرونه د ټولنې ځوانان راویښوي او سترنغښتي پیغام پکې احساسونه راپاروي او د تل لپاره ولسونه ژوندي ساتي.
لکه دا بیتونه یې

بم د پردي مه راوړه دا چــم ورباندې مــه نړو
جوړ پکې زما د ختــو کورده درپکار به شي

دا اندړوال صاحب له شعرونو او لیکلو کرښو دا سې ښکاري چې په مینه کې ناکامه پاتې شوی او خپلې مینې ته نه دی رسیدلی نو اظهاریې ځکه دی د شعر په ژبه کوي

څوک چې په مینه کې ناکام شي هغه ماغوندې شي
ژوند یې لمبه لمبه تمام شي هغه ماغوندې شي

www.samsoor.com

چې په یو چا باندې مئین شي په مینه کوڅه
د ټولو خلکو ورته پام شي هغه ما غوندې شي

د اندړوال لیکلي شعرونه مې په دې خوښ دي چې په عامیانه او کلیوالي ژبه یې د حالاتو او د ټولنې د ستونزو ترجماني پکې کړې او هغه نوې کلیموته یې پکې ځای ورکړی چې په اوسنیو حالاتو کې ورته اړتیا لیدل کیده لکه دابیت

په پیغام ګوزاره نه کیږي آپمیل راته رالیږه
ځوانې مرګې د خندا دې جوړآمیل راته رالیږه
زمانه دې مبارک شه د احساس او هوس جوړه
خوشالیانې ټولې چاڼ که غم غلبېل راته رالیږه

د اندړوال په هر غزل کې راته نوښت ترسترګو کیږي او دغه لاملونه دي چې زمونږ مینه یې د ده له شعر سره ډېره کړې ده د ګران ملګري او ځوان شاعرنورګل اندړوال دلابریاوو په هیله

په درنښت
جلال احمد یاد صافی

www.samsoor.com

## زما خبرې

شعر هغه درياب ده چې يو وار شاعر پکې ډوب شي
دراوتو امکان يې ګرانه خبره وي زه چې کوچنی ومه لامې
شعر او نثر نه پيژانده ښوونځی او ټولګی مې نه و ليدلی. په
درې کلنۍ کې مې د پلار له له خوا رېه نعمت څخه بې برخې
شوم بې وسي ، ناچاري او بې پلاره ژوند د غمونو پر کلي
ورګډ کړم له ډېره غمه او خپګانه به مې د شعر په نوم يو څه
ليکل د ژوند ډېر سپرلي او مني مې شا ته پريښودل
د شاعرانو سره مې ناسته ولاړه پيل کړه او د شاعرانو
پر کاروان مې ځان ورګډ که. د هر شعر د ليکلو لپاره مې سپين
سحرونه په ماښام او تور ماښامونه په سپينو سحرونو بدل
کړل.
په لړزيدلو ګوتو مې څوګوډ مات غزلونه دې شعري ټولګې
ته برابر کړل چې د چاپ په ګاڼه سمباله شي.
شاعر د چاپيريال او خپل کلي وکور څخه الهام اخيستونکی
ده نو شاعر ته په کار ده چې د خپل چاپيريال ستونزې هغه که
په هره برخه او هر ځای کې وي د خپلو ګرانو خلکو او ټولنې ته
د شعر په ژبه راڅرګندې کړي

www.samsoor.com

.

ممکن زما شعرونه دې پرو لوستونکو خوښ نه شي او ممکن دې پرلوستونکو خوښ شي دا طبعي خبره ده چې دیوه شاعر شعر ځینې لوستونکي زیات خوښوي او ځینې لوستونکي یې لا یو بیت هم په ټوله شعري ټولګه کې نه خوښوي خو په هرصورت مادا اثر ګنده کړه چې د خپل زړه دردونه او د ولس وچا پیریال ستونزې د شعري ټولګې په شکل ستاسې درنو لوستونکو مخ ته کیږدم ترڅو ادبي تنده مو پرې خړوبه شي.

زه وایم زمادې شعري ټولګه کې به زیاتې ستونزې وي خیال، فکر او آحساس به مې هغه څه د شعرچوکاټ ته نه وي راوستي کوم چې د شعر درانه مینه او د کلي ژوند لوستونکي یې غواړي ځکه چې دامې لومړنۍ شعري ټولګه ده.

خودلوی الله نه هیله مند یم چې ستاسې درنو به د کلي ژوند کې لیکلي شعرونه د پام وړ وګرځي

په درنښت

اندړوال

منندليک !

مننه کوم د زړونو د شاعرګران استاد جمعه خان توخي ، احسان الله درويش ، حاجي صاحب ذکرالله ملنګ ، عبدالکريم جاويد ،استاد سردارګل قانع ،وسيم خان مومند او ټولو شاعرانو څخه چې زيات وختونه يې تر ډيره بريده وهڅولم چې شعروليکم اوزما په ليکلو کرښوبه يې خپل مثبت نظرونه راسره شريکول کوريې ودان.

همدا راز له خپل ګران همکار او د بغلان راډيو د اسلامي خپرونو د مسول عبدالقدوس احمدزي ، په شمال ختيځ زون کې د کرهنې اومالدارۍ مشر محمد غلام ملاخيل ، د مرکزي بغلان د ښاروال خدايرحم آڅکزي، د خپل ښوونځي د دورې د ټولګيوال څارنوال صاحب محمدآصف حسين خيل او قدرمن ملګري ناصر سروري څخه نړۍ مننه چې د دې کتاب په چاپ کې يې پوره ځاني اومالي مرسته راسره وکړه اودغه درانده بارته يې راسره اوږه ورکړه.

همدا شان د تکړه شاعراو هڅاند ملګري ذاکرالله احساس نه هم غرونه غرونه مننه چې د دې کتاب په کمپوز او ډيزاين کې يې سپينې ورځې بيګا اوتورې شپې يې صباکړې ژوندی دې وي د برياليتوب په هيله يې يم. په درنښت

نورګل اندړوال

www.samsoor.com

# غزل

چې ښکلا ګانو رانه وران کلي ته کډه وکړه
ښکاري انسان نن د انسان کلي ته کډ وکړه

د بې وسئ ځادر و ختو راته په سر واچوه
له مجبوريته مې د ځان کلي ته کډه وکړه
ښار يعقوبې ويوه ورور بل ته کتلې نه شو
يوسفي مينو د کنعان کلي ته کډه وکړه
مونږ لا ترننه د خپل کار خلک زغملی نه شو
ځکه زلمو مود جهان کلي ته کډه وکړه
غربت وهلي ځوسړي رانه بلاوخوړل
يتيمو هيلو په ايمن آن کلي ته کډه وکړه

په لنډ تصميم يې اندړوال کله هم پوه نه شومه
هغې بس يو دم د بغلان کلي ته کډه وکړه

www.samsoor.com

# غزل

بخت دې ترلې د حالاتو په ځنځیر ښکاري
د مخ هنداره کې دې ورک د چا تصویر ښکاري

په وربې خیټه بیګانۍ شپه خوارو چیغې کړلې
غربې چا وانوريد مړ شوی مو آمیر ښکاري
زړه سوي، وروري او ترحم له دنیا کډه کړې
بې وسه نه زغمي شتمن یو بل ته ځیر ښکاري
دلړزید لي تخت او تاج مشران موغم کې نه دي
ښایی خوښي دوي ته د دې غریبو ویر ښکاري
آسمانه لاس در اوږدو مه له جاغې دې نیسم
ستا دلوي سیوری لاندې مات زمونږ تقدیر ښکاری

نا پوهه خاوره اندړواله شوه له زده کړو تښتو
ځینو ته سپینه کتابچه بم قلم تیر ښکاري

www.samsoor.com

## غزل

په پيام ګزاره نه کېږی ایمیل راته رالیږه
ځواني مرګي د خندا دي جوړ آمیل راته رالیږه

زمانه دي مبارک شه د احساس او هوس جوړه
خوشالیاني تولي چڼ که غم غلبیل راته رالیږه

توري شپې د بې کسئ مې د حسرت کاروان سیوا کړې
په يولاس ګوګوړ وا خله بل کې تیل راته رالیږه

وخت راوستی یم دي وخت ته چې مې ځان لره ګورباسم
کولنګونه وبیلچې پخې ګرانی بیل راته رالیږه

تر دي وروسته (اندړوال) زه د تورتم هجرکوربه شوم
بې خندا خلک مې خپل دي غم کې ښکیل راته رالیږه

## غزل

بـــې لـــه خوښـــيو مې د غـــم ســـره خيښـــی کـــړی ده
ســـتا په ليدو پســـي مـــې نـــن ډيـــره خـــواری کـــړی ده

د فـــولادي زړه پـــه چرو مـــې ژوبلـــه شـــوی نـــه يـــې
کنـــه شـــپږ ځلي مـــې پـــه تـــا انتحـــاری کـــړی ده

ښـــکاري چـــې روح رانـــه د مـــرګ ملکـــې نـــه ده وړي
ســـاه اخيســـتلو کې يـــی لـــه ما ســـره ســـستي کـــړی ده

د رتـــه د رکـــړي زړه ســـتا زړه راتـــه پـــه زړه راکـــړي
ګرانـــي پـــه ميـــنه کـــې ما کو مـــه غلطـــي کـــړی ده

د انـــدړوال وجـــود دي ولـــی کـــه پـــه خپـــل ځـــان پســـې
تالاد چـــا په نـــوم ترننـــه زنـــده ګـــي کـــړی ده

www.samsoor.com

## غزل

دا چې تنها یو تر جانانه رسیدلی نه یو
دا موګنا ده چې تر ځانه رسیدلي نه یو
په هره لار ځویو لار موځانته خپله نه کړه
په پردی لاره بدګمانه رسیدلي نه یو
یوا ځې دروموملګرتیا د هیڅ اشنانه لرو
ښکلیه د ښکلو تر کاروانه رسیدلي نه یو
ناهیلی ژوند د نهیلیو د آمید ترکلي
ډیر بې آرمانه تر آرمانه رسی دلي نه یو
جانانه بس ده نوردمینې وعدې مه راکوه
د استاد ستر ګو تر نشانه رسیدلي نه یو
په تورو شپو کې د یار ستر ګو نه تصویروباسو
دلمدو آو ښکو تر ګریوانه رسیدلي نه یو
د حسن ستوری د ځیګر په خاوره ورک لټوو
مونږه د مینې تر آسمانه رسیدلي نه یو
هغه خوا دې خوا "اندړواله "زړګي ثلـه ګورې
لاخو تر ښکلو د بغلانه رسیدلي نه یو

## غزل

لويه نړۍ کې ديوسترې غونډې ژوند تيروو
لکه مين دزړه ورکړې غونډې ژوند تيروو

له خپله عقل فکر سوچ نه موکار نه دي کړی
مونږ پښتانه يو چې د مړې غونډې ژوند تيروو
د شر شدت سيلاب ځپلي يو د جنګ ترزانګو
لاپکې ډوب يو آوبو وړې غونډې ژوند تيروو
هر لوخړيزدودراکيتي موغږد خولې وړې ده
ښکاروګونګان دسلګو پړې غونډې ژوند تيروو
له چانه پاتې زرغون شوي يو په خړه دښته
تنګو زړګيو کې د پړې غونډې ژوند تيروو

چې مينه نه کړو ياري نه کړو اندړواله د چا
تېپي دوخت يو د مات غړي غونډې ژوند تيروو

www.samsoor.com

# غزل

دانـــن يـــې خرځـــوم جانـــان پـــردی اخلـــــې پــــه ځـــو
مــــانوی پیدا کـــــــــــــړی نـــو کی اخلـــې پــــه ځــــو

بیګـــــامې د ګودرســـــــــــره دوه درې دي پیـــــــدا کړي
راوړی مـــــې لــــه هغونـــــه مـــــــنګی اخلـــې پـــه ځـــو

هغـــې قســـــــم پـــه خـــدای ده پـــه لاســـوکی ګرځـــولی
بـــې حــــده ډیرزوړشـــوی ســـوربنګړی اخلـــې پـــه ځـــو

بیاســـترګې درپســـی دي چـــې نظـــره چیرتـــه نـــه شـــی
نظرتـــه مـــې راوړی ســــــــــپیلنی اخلـــې پـــه ځـــو

داســـــتادمینی زورچـــې یـــې شـــعری دنیـــاکړه ورانـــه
شـــــاعرخپل (انـــدړوال) دي لیـــونی اخلـــې پـــه ځـــو

www.samsoor.com

# غزل

په سایلی سترګو خاني کومه
په یاد دښکلو زندګي کومه

روژي د حسن دې په شونډو نیسم
ورته په مینه پیشلمي کومه
راشه زما شه راشه کنه
در پسې سوي آسویلي کومه
پام چې قدم راڅخه لري نه شی
په تپي زړه درته زګیروي کومه
سپوږمی او ستوري په جرګه درلیږم
په اسمانو دې ریباري کومه
که زمانه شوی ځوانیمیرګي جلي
په پلار دې برید انتحاري کومه

چې اندړوال درباندې شومه مین
اوس دې د کلي غلامي کومه

# غزل

دزړه پـه وران مرچـل کـې مـې دوارسـړي کـم شـوې
دحســـن لــه درشــل د انتـــظار ســــړي کـم شــوی

اوس څـــوک راتـــه دمیــــنې او وفا خـــبرې نـــه کـــړي
ښــــکاره پـه دغـه خـاوره لکـه یـار سـړي کم شـوی
غـــــبږونه دي بدرنګـــه زمــانو تــرې مــزي وړي
ورک شــوی تـرنم ده ســــندرمار ســړي کـم شــوی
شــــهید شـــهید ملا راتــه شـــهیدې کیســې وایــې
منصـــوربې غمــه ګرځــی وای ددار ســړي کــم شــوی
موافــق پــه دې ویـنــا دهاغـو خلکو ســــــره نــه یــو
چــې وایــي پـه بغــلان کـې اوس دکارسـړي کـم شـوی

وړیامــــــــو "اندړواله" دې خوبـــــان ورتــــه راوړي
پـه مفــــته دیــدن نـآخلي وای دڅارسـړي کـم شـوی

www.samsoor.com

## غزل

قــــدم کیښـــــودي نــــه شـــم هر مضـــمون د موکراســــي ده
داوخـــت زمـــونږ د نـــن کــــه د پـــرون د موکراســــی ده

ملـــــي فرهنـــــګ کلتور پـــــسې موهرســــړی خنــــدیږی
دا څــــه د فســــــقه ډکــــه د ژونـــدون د موکراســــی ده

پټکــــۍ لــــه سیمې ورکــــه شــوه حیــا راځـــي شــرمیږم
مـــــین پـــــه نیکتــــایې شــــول د پتلـــون د موکراســـی ده

پلار خپلــــې لورتــــه هیڅــــه د جــامې ویلـــی نــــه شــــي
کـــالي بـــې حـــده لنـــډ شــول ترزنګـــون د موکراســـی ده

دښــــارهره کوڅــــه خـــو " اندړوالــــه " پـــرې رنګینــــه
شـــپیلۍ کـــې دغـــره ســـر نـــه وایـــی شــپون د موکراســی ده

# غزل

زما مور جانې مورې چېره لاړې
وه قدر دانې مورې چېره لاړې

زه به دې غم اندېښنې چېره وړمه
زما زړه سوانې مورې چېره لاړې
بې له تا ژوند راته نېمګړې ښکاري
وه په ما ګرانې مورې چېره لاړې
د شفقت لاس به کړې څوک په ما تېر
اې کورودانې مورې چېره لاړې
یو د آخر ډالۍ دې غم کړه راته
له ما روانې مورې چېره لاړې

د "اندړوال" دې کړه ژړه ملګرې
چې شوې روانې مورې چېره لاړې

## غزل

څومره بانکه وه څونن څومره بې ننګه شوله
لیلا مې هسې پاتې نه شوله بې رنګه شوله

خماري سترګې يې د غم غوندې یادګار پاتې شوې
نوره په ځوانه ځوانۍ لاړه رنګه بنګه شوله
لکه تپه دیه قربان ترغږ ونه رسیده
کچکول یې واخیسته تربرکلې ملنګه شوله
د سولې سپین بیرق یې لوړ که دآسمان ترکلې
وطن پرسته توبه ګاره له تورجنګه شوله
د زمان تیز باد یې ځواني ټوله تالا والا کړه
دحسن ونه یې لنډۍ وه خو بیا دنګه شوله

په مازدیګر دې "اندړواله" ترینه مخ واړه
چې درنه لاړه دنیا ګۍ درباندې تنګه شوله

www.samsoor.com

## غزل

د مینې آیت ورک ده ستادمخ په سپاره کې
لیدل یې ګران برېښېږي د حسنو نو په آینه کې

د زړه په زور کاغذ باندې مې بیا لیکمه مینه
شاګرد د لومړي صنف شوم دوفاوو مدرسه کې
اوس خورم سختې څپېړې د جفا په تندی باندې
راځي جنګ و دعوې تېتې اوجګې یارانه کې
بې خوده یم نړۍ راته بې رنګه ښکاره کېږي
جنون به مې عادت وي لا ترکومه میکده کې
تعبیر مې د لیدلي خوب ترخو به پورې تللي
اوس تا په شپه کې نه وینم یواځې یمه شپه کې

کوم ښکلي نه به ښکلیه ښکلی زړه وي پردي شوی
بایللي اندړوال شاعرخپل زړه ده په مارچه کې

# غزل

نور د آســـــمان لــه ګلــي ګــډه بار و مــه ځمـــــه
يو بــل جهــان تــه مــې بــس ســـتر ګې پټو مــه ځمـــــه

چــې بــد ګمان را بانــدې ســـــتورى د صــبا و نــه کــړي
لــه تــورې شــپې ســره يــارې مــې ختمو مــه ځمـــــه
ځــې رقيبــان دلــوى بغــلان وربانــدى ټــول خوشــال شــي
ديارپــه چــم کــې مــې ګريــوان څـــــيرى کو مــه ځمــه
چــې چاتــه بيــانوم ديــارى او مينتـــــوب وانــه خلــي
لـــه هـــرمين زړ ګــې نــه ميـــــنه ټولو مـــه ځمـــه
لـــه هراشـــناســـــره وداع دژونـــد ترپايـــه کـــوم
لـــه ښکلو ښـــکلونه بـــد رنګ زړه صـــبرو مه ځمـــــه

# غزل

لکه او سپنه خپل زنګ یمه خوړلی
یاره ستا د بنګړو شړنګ یمه خوړلی

نور به نه ځم د دې چم په بره لاره
هلته حسن غنم رنګ یمه خوړلی
د چنار د سرتېپې رانه هیر شوی
د سرنی او رباب ترنګ یمه خوړلی
دنیاګۍ د غم هجران څومره وړه کړه
دې ژوندون د دنیا تنګ یمه خوړلی
اوس د مینې پیتې ورم د ویر ترکلي
پښتانه غیرت او ننګ یمه خوړلی

ځم د ښکلو یارانه کړم چیره لرې
اندړوال " ښکلو د څنګ یمه خوړلی

www.samsoor.com

## غزل

ستا به یم هیر که په نظر جانانه
له تا شوم لرې مسافر جانانه

زما ماښام خوله غمونو نه ډک
دا ستا به څنګه وي سحر جانانه
هره شیبه به دې په ویر تیریږي
که به خندا باندې یې سر جانانه
له هره دره سوال د مینې کوم
سایل د وخت شوم در په در جانانه
آخر به وخورم د جفاوو غشي
اوس مې نیولې ده سنګر جانانه

زه اندړوال چې درته زنګ نه وهم
نه دې شمیره شته نه نمبر جانانه

www.samsoor.com

## غزل

چې يې له ستوني نه ساګانې په آرمان راوځي
غمجن په زړه دي چې غړونه يې ترځان راوځي

په ښکلي چم کې بل مين اويار زغملی نه شي
تنګ يې زړګي دي دا چې چيغې ترآسمان راوځي

دنيا زمونږ مخ ته جوړکلې دآستوګنې ځاي ده
خلکو ته کور سندريز ښه مونږ ته بمان راوځي

لکه چې تيروي په خاوره ديرش کلن انقلاب
چاته چاړه په وينو سره چاته ګلان راوځي

نن رغول پيل دي په سيمه اندړواله ګوره
په نصيب ډيروراني بې حده دبغلان راوځي

www.samsoor.com

## غزل

اورمې نظر شو لو په دید کې مې لمبه ښکاریږي
یو غره ته ګورمه په سترګو کې مې دوه ښکاریږی

پخوا را تلمه ځو شیبو کې به راورسیدم
څه چل پرې شوی نن د کلي لار اوږده ښکاریږي
حالت بدل شو ژوند تورتم ده ربه څه وکړمه
درومم په سپینه رڼا ورځ خورا ته شپه ښکاریږي
دریاب په سروا خیستم ځکه یې لاس اچومه
هسې نه ډوب مې کړي یا غي د سین څپه ښکاریږي
ځه کندې ستا لپاره باسم ته ځما لپاره
یا مونږ بدل شو یا بدله زمانه ښکاریږي
نن چې په خاوره مو وزلو به تورپنجاب پیل کړې
او به له پورته دې خیره بل شان کیسه ښکاریږی

له زده کړو تښتې اندړواله جګړه ماره ولس
خود به نو بم ورته قلم او کتابچه ښکاریږی

www.samsoor.com

# غزل

زه بد رنګه ته ښایسته سره جوړېږو
راشه وکړو فیصله سره جوړېږو

تررسا ځوانئ دې ځار شمه نیازبینې
ستا پیکي زما شمله سره جوړېږو
مازدیګر منګي راواخله ځه ګودرته
همدغه کړه وظیفه سره جوړېږو
ځوبه وړاندې یوې ښکلې دنیاګئ ته
شاته پرېږده زمانه سره جوړېږو
لاس د مینې د وفا په قسم راکه
چې ښه وکړو یارانه سره جوړېږو

راشه زړه زما اندړوال په زړګي کېده
نن زما یې میلمنه سره جوړېږو

www.samsoor.com

## غزل

مونږ ورته ښکلا راوړو اودوی ترینه ښکلا آخلي
ښار د ښایستونه مو پردي آنځور د چا آخلي

مونږه قلم وا خیسته د نیا سره سیالي کوو
دا تور مخي څوک دي چې له لاس مو قلم بیا آخلي
ښکاري بیا هغه توري تیارې خپرې د جهل کړي
ځکه له دې چم څخه د درس تعلیم رڼا آخلي
دا ولس د نور وپه لمسون باندې غولیږي نه
سل ځله که لویږي بیا هم لاره د آبا آخلي
مونږه په لاسونو کې خپل فکر ګرځوی نه شو
وګوره دنیا ته په منګلو کې دنیا آخلي

روحنأ مونږ ژوندي یو اندړوال ه قلبأ مړه ښکارو
ځکه څوخړسري موپه زورد ستوني سا آخلي

www.samsoor.com

## غزل

پــه کــوهي کــې مــې ژونــدون ده ترینــه بــره ختــي نــه شــم
خلــک پورتــه ځــي آســمان تــه زه کــوهي نــه وتــي نــه شــم

غــرب جازونــه وموټرجــوړکړل لاآختــه پــه پرمختــګ ده
زه آفغــان خــواربې نصــوارو لا بــل څــه جــوړوي نــه شــم

وروســته پــاتې لــه دنیانــه وروســته پــآتې مــې ژونــدون ده
ترقــي خــوب بــې تعبیــره چــې یــې هــیڅ وخــت لیــدي نــه شــم

تــل آحتیــاج یمـــــــه پردوتــه زنــده ګــې مــې دمنــت ده
هــیڅ مــې رفعــه مشــکل نــه شــوخپل مشــکل حل کــوي نــه شــم

www.samsoor.com

## غزل

تاچي په رښتیا د خپل اقرار خبري هیري کړي
ماهم ستاد پاره بس دوار خبري هیري کړي

شنه بنګړی خوري زلفي چي ښکلو سره نه ښکاري
پیغلو د دي چم د تار سیتار خبري هیري کړي
هسي د پيئ مخو انقلاب ترینه وفاغواړي
دي حالت بدل کی هریو یار خبري هیري کړي
جوړي دي حلقي کړي لیوني د خلکو زنو ته
مست منصور په مینه کی د دار خبري هیري کړي
وړي چي هره ورځ سرمغربي نه افراطی جانان
ځکه پردي پالو د دي ښار خبري هیري کړي

شعرمی ساقی واخله اندړوال پری ډیر نشه یمه
بیت می ستا حجری نه د خمار خبری هیری کړی

www.samsoor.com

# غزل

تورو شپو کې بس ډیوه راسره نشته
مسافر یمه هغه راسره نشته

په هجران کې تیرېږي شپې او ورځې
شوګیرې دي د خوب شپه راسره نشته

ځواني تیره مې د شعراو دغزل ده
ثلوریزه اوټپه راسره نشته

چې مین زه اندړوال شوم ستاد حسن
مسافریم ستا شمیره راسره نشته

## غزل

چې راته هیڅ نه وهې زنګ نو میسکال مه راکوه
چې پورته کیږي له جیب ترنګ نو میسکال مه راکوه

په ایمیلونو ګلې زما وستا یارانه نه کیږي
والا له تا یمه په تنګ نو میسکال مه راکوه

ښایسته وجود مې پخواني ګلابه مه لتهوه
یمه لویدلي له ګړنګ نو میسکال مه راکوه

ته به په خیال د ښایسته راته وهې زنګونه
زه اندړوال یمه بدرنګ نو میسکال مه راکوه

www.samsoor.com

## غزل

چې ښکلي وويـنم نوسترګوکې مې نـم غونـدې شـي
ژړامې جوړه پـه خـولګۍ وخـت مې دغـم غونـدې شـي

لـه خپلـه ديـده پښـيمانه اوبيـزاره شـمه
ژونـد دخوښـۍ مې تـول جانانـه دمـاتم غونـدې شـي
سـل ځلـي وو ايـم چې نـه ورګـورم نـه ورګـورم
بيـابې وعـدې شـمه دا خپـل زړه راتـه ګـرم غونـدې شـي
چـې دکنډو پـه سـريې ونـه کـړم ديـدن مـازديګر
تـول ځـان مې اور واخلـي او ولـې لکـه شـم غونـدې شـي
راتـه پـه تـوره شـپه کې راشـي دوصـال وختونـه
آرمـان دمينـې مې پـه سـوی زړه کې کـم غونـدې شـي

دعشـق شاعرشـه اندړوالـه دعشـق شـعرجوړکه
چـې هـرغزل دې ميناتوتـه دبـم غونـدې شـي

www.samsoor.com

## غزل

چې مې په وينو جامې سرې شوې نورمې مه يادوه
زما د مرګ چې آوازې شوې نورمې مه يادوه

د چپر کټ سرته مې مه راځه مغروره آشنا
خبر چې زما له جنازې شوې نورمې مه يادوه
د سپين کفن له پټه ګوره بې روحه تن ته
جوړې مې ځنې ته حلقې شوې نورمې مه يادوه
د ځنکندن و خت کې خورا نغلې زما ديدن ته
اوس خو مې تور لحد کې شپې شوې نورمې مه يادوه
په ژوندانه چې دې ويستلي وم د خپل نظره
په ما چې خاورې راخورې شوې نورمې مه يادوه

زما اندړوال زاړه يادونه کړه ملګري د ځان
چې مې د ژوند ډيوه ګئ مړې شوې نورمې مه يادوه

www.samsoor.com

# غزل

چې مین شوم زنده ګي را پورې اورشوه
ځواني مرګې ستا یاري را پورې اورشوه

تورو شپو کې ستا په یاد غزلې لیکم
جوړ ملنګ شوم شاعري را پورې اورشوه

زماني رانه خوړلي دزړه وینې
غم خوښي دخپل زړګي را پورې اورشوه

رایادیږي هادلسو پیغلو میره
تري شوم لري پردیسي را پورې اورشوه

ډوب د سترګو آباسین کې اندړوال شوم
ترینه وځم او بازي را پورې اور شوه

www.samsoor.com

## غزل

ځان ته مې غم په بیه نوروا خیسته
آشناله مینې مې رنګ توروا خیسته

چې آنګولاو چیغې خورې شوې په چم
آرامه کورمې شراو شور وا خیسته
زه خوبیزار له جنګه مخکې ومه
د سولې غږمې نن په پوروا خیسته
خودوطن دغونا خوالوډیرو
رانه بغلان کلی او کوروا خیسته
زه به نوڅنګه په سکون وآوسم
آخوانبا یسته کابل مې آوروا خیسته
دتوپک توري ها بد مرغې شپیلۍ
رانه سکه تربوراو ورور وا خیسته

چا کړه بهتره ددنیا زنده ګي
چا اندړواله ژوند دګور وا خیسته

www.samsoor.com

# غزل

حسن خپل دې مبارک خداې پامان زه درنه ځمه
خوشالي دا ستا نصيب شه په آيمان زه درنه ځمه

نور د حسن رمې بيا يه د ځيګرو رشو شوې بندې
ګران آشنا دې مسافر شو خوار چوپان زه درنه ځمه
بند يزپورې په سرود شو وچکالي د ترنم شوه
غږ ساده دې درسره وې يه قربان زه درنه ځمه
يوسفي مينې دې ګلې د وختونو يعقوب ړوند کړم
که له حاله دې خبر شم ترکنعان زه درنه ځمه
ستا د آوښکو سمندر ته لاهو شوې يمه ګرانې
ډوبيدو ته ورنږدې يم په فغان زه درنه ځمه

کابلي حسن دې ګلې اندړوال ملنګ دوخت کړم
اوس خيرات د مينې راکه تربغلان زه درنه ځمه

www.samsoor.com

## غزل

خپل شاعر نظر زما ملګري دي
هاغه مرور زما ملګري دي

شونډې چې دې ستا د مينې ډک کوي
ستا د خولګۍ ور زما ملګري دي
ناست د چنار سوري ته منګي سره
ښکلي برګو در زما ملګري دي
وخت د تلو معلوم شو زمانې ته ټول
زېړ زېړ مازديګر زما ملګري دي
تل دې يادومه غم خندا سره
ګرانې ستا ځيګر زما ملګري دي

اوس چې (اندړوال) په هره خوا ګرځي
تا کړلو منتر زما ملګري دي

www.samsoor.com

## غزل

دزړه پــه وران مرچــل کــې مــې دوارســړي کــم شــوې
دحســــن لــه درشــل د انتــــظار ســــړي کــم شــوی

اوس څــوک راتــه دميــــنې او وفا خــــبرې نــه کــړي
ښــــکاره پــه دغــه خــاوره لکــه يــار ســړي کــم شــوی
غـــــــبږونه دي بدرنګــــه زمــــانو تــــرې مــــزي وړي
ورک شــوی تــرنم ده ســـــندرمار ســـړي کــم شــوی
شــــهيد شــــهيدملا راتــه شــــهيدې کيســې وايــي
منصــوربې غمــه ګرځــی وای ددار ســـړي کــم شــوی
موافــق پــه دې وينــا دهاغــوخلکوســــــره نــه يــو
چــې وايــي پــه بغــلان کــې اوس دکارســړي کــم شــوی

وړيامــــــــواندړواله دې خوبــــــان ورتــــــه راوړي
پــه مفـــــته ديــدن نـآخلي وای دڅارســـړي کــم شــوی

www.samsoor.com

## غزل

زه بدرنګه ته ښایسته سره جوړېږو
راشه وکړو فیصله سره جوړېږو

ترسا ځوانئ دې ځار شمه نیازبینې
ستا پیکي زما شمله سره جوړېږو
ما زدیګرمنګي راواخله ځه ګودر ته
همدغه کړه وظیفه سره جوړېږو
ځوبه وړاندې یوې ښکلې دنیاګئ ته
شاته پرېږده زمانه سره جوړېږو
لاس د مینې دوفا په قسم راکه
چې ښه وکړو یارانه سره جوړېږو

راشه زړه زما اندړوال په زړګي کیده
نن زما یې میلمنه سره جوړېږو

www.samsoor.com

## غزل

ست په مړاو وسترګو کې سحار ماښام آشنا کوه
یاد مې په یاد لمانځه هر رقیب ته مې ښیرا کوه

دواړه لاسه لپه کړه اسمان خواته یې ونیسه
ما غونډې دوه دریوو مینانو ته دوعا کوه
نن د زړه محراب مې بې ملا او مقتدیانو ده
یاد به تکبیرونه وایې یاره اقتدا کوه
ستا یزیدۍ مینې زما حسین ارمان وژلی ده
اوس پښیماني کوه په دوه سترګو ژړا کوه
سر نه د ښانه ښکاري یوسف حسن د ښاتل کې
زړه وخوري ظالمه پلار یعقوب سره رښتیا کوه
دوه ګزه تسبو باندې فردوس ته رسیدی نه شې
نیت ابراهیمي که په هر ځای درب رضا کوه

توري سره وپیه غزل د زنده ګي جوړکه
ژوند ده اندړواله له هر چا سره دا کوه

# غزل

ستا سو کلي ته درغلی آشنا مړو
دا ریښتیاده آښاغلی والا مړو

ما پرې چیغه کړه چې وه جانانه پاڅه
په سفرباندې وتلی پخوا مړو

توري سترګې تورزلفان سپینه یې غاړه
هلته چم کې مې لیدلی زیبا مړو

ماجرګه دمینې وروړه واده جوړ شو
چې جومات کې مې نیولي ملا مړو

نوربه څوکډه به بارکړو اندړواله
تاچې کلي کې خوښ کړي بیګا مړو

www.samsoor.com

# غزل

لکه ټپه چې د زړګي د شراوشوره وځي
داسې مې مینه ستا د مینې له تیزاوره وځي

یو فرښته شي راته جوړ غزل لیموته راوړي
د آحساس پیغله مې بیتو پسې سرتوره وځي

د ژوندون پیل او پای راښیي بس یوه شیبه کې
هستي نیستي ناخوالو ټولې مې له پوره وځي

دا راته پاتې یو متل ده له پخوا زمانې
چې پردي مړي به په چیغو زمونږ له ګوره وځي

نوي قانون نوې ډالۍ راته همدا راکړې
چې پګړۍ سپینه مې د قام له تورو توره وځي

## غزل

نــــن پــــه پښــــتو ژبه بند يز پــــه هر دفتــــر پــــورې ده
بــــس پــــه ويلو آوريــــد لو يې قيــــد د ســــر پورې ده

لا مو نږ ويــــده يو دهو يــــت نــــه مــــو خبر نــــه اســــتو
دا څــــه بد آور مو پــــه ســــينه او پــــه ځيګر پــــورې ده
هــــره شــــيبه مو پــــه كورو بانــــدې بمو نــــه آورى
هر يو ســــاعت مــــو ډک لــــه شــــراو په خطر پــــورې ده
تر څوبــــه يو دا ســــې بــــې وســــه او بــــې کســــه ګــــوره
د لــــوړې کــــال پــــه مو نږ لــــه ډيروختــــه نهر پــــورې ده
د غيــــرت نښــــه دې ترهنــــده پــــورې لاس غــــزوې
د وينو رنــــګ دې پــــه هر کــــانې د ســــنګر پورې ده

بــــس لــــه ربښــــتيا ولاس پــــه سرشــــه اندړوا لــــه ګــــوره
لــــه حقيقــــته اوس پــــه هرځــــاى شورا و شــــر پورې ده

## غزل

وطـــن کـــې خـــوردغم ټغـــرده آخترنـــه شـــــم لمـــانځي
ژړافریادپـــه هـــــــریودرده آخترنـــــه شـــــم لمـــــانځي

تـــه خـــوخبریې چـــې پـــرون موښـــــارکې بـــم والوتـــه
پـــه کـــې شـــهیدمې دزړه ســـره ده آخترنـــه شـــم لمـــانځي
ډنـــډغوری دهنـــه غـــوری بغـــلان نـــه چیغـــې خیـــژی
پـــه کوکوویرکرکرچـــونغرده آخترنـــه شـــم لمـــانځی
لـــه کلـــي لـــری پـــه پـــردي کـــورګي کـــې ژونـــد تیـــروم
کـــورمې دجنـــګ جګړوســـنګرده آخترنـــه شـــم لمـــانځي
اخ زه پـــه کومـــه خولـــه غړوباســـم تبریـــک ووایـــم
زمـــاخوټپي دژبـــي ســـــرده آخترنـــه شـــــم لمـــانځي

وینـــوکي پـــروت یـــم انـــدړوال دغـــم شـــعرونه لـــیکم
شـــهیدلالي مـــې دلربـــرده آخترنـــه شـــــم لمـــانځي

www.samsoor.com

## غزل

احتیــــاج دې د دعــــــایم پــــه والا زمامورجــــانې
آســــمان تــــه کــــړه لاس پورتــــه د دعازمامورجــــانې

نظرنــــه دې یــــم لــــرې بــــل وطــــن کــــې مســــافریم
ســــــحارهم دریــــادیږم هــــم بیګازمامورجــــانې
ماشــــوم دزمــــانې وم شــــوګیروکې دې ســــم لــــوي کــــړم
پــــه ویښــــه دې دخــــوب شــــپې کــــړې صــــبازمامورجانې
ای کــاش چــې شــم ورکــي راتــه للودخــوب تکرارکــړې
آرمــــان مــــې همــــــــدغه ده پــــه والا زمامورجــــانې
شــــیبه چــــې دې ونــــه ویــــنم والا ســــکون مــــې نــــه وي
زړګــــي تــــه مــــې نــــژدې یــــې ترهرڅازمــــا مورجــــانې

نصــــــیب دې جنتونــــه دفــــردوس شــــه پــــه عقبــــاکې
دعادانــــــدړوال ده بــــــس همــــــــــدا زمامورجــــانې

## غزل

اوس چې لا د غرونو څوکې سرې ښکاري
شوما ښام په هرلوري تیارې ښکاري

څنګه به په ورکولاړو دومره اوس
سمې لارې هم راته کږې ښکاري
پاتې له کاروانه دزلمیو یم
بس لکه قاتل جامې مې سرې ښکاري
ژوند شو نور را بارخپلو اوږو باندې
ما ته د قیامت دا علامې ښکاري
تیري وانقلاب د څوو ختو نو ده
روانې د هر کور جنازې ښکاري

درز دراکیتوده اندړوال نه نور
څه نشته په هرلوري جګړې ښکاري

## غزل

اوس مونږ له یوبله جدا نه استو
اوس مونږ د خلکو د خندا نه استو

د سولې کرموهره خوا کړې ده
د جنګ دلاسه په ژړانه استو
د ټوپک تورې هابد مرغې خولې ته
دوه سترکو باندې په لیدا نه استو
هیلې او مینې مو اوس خپلې ښکاري
د تورتمو شپو ته صبانه استو
بس مینان استو د سولې د غږ
مین په جنګ باندې والا نه استو

وایې دې هرڅه اندړوال په پردی
له ټولو ښه پاتې له چانه استو

## غزل

لــه جنګــه ســـتړی يــو پــردي مـــو غورزوي جنګـــو کې
خــداي دې تباکــړی چــې څــوک مو نړ.تبـا کوی جنګــو کې

نړيـــوال څـــو رقمــــه ګتـــې لټـــوي پـــه دې کـــې
يـــوه وســـله پلـــوري بـــل ماوتـــا وژنـــي جنګـــو کې
ويـــده ولـــس يـــو پـــه دې نـــه يـــو خبـــر څـــه کيســـه ده
ګاونـــډی زمـــــونږه دا وطـــن خرابـــوي جنګـــو کې
اوف مغربيـــو دلتـــه لوبـــه دشـــــطرنج پيـــل کـــړې
ماوتـــا غورځـــو او ســـــرمو پکـــې څـــي جنګـــو کې
يـــويې ديـــوې ډلـــې اتـــل بـــل يـــې دبلـــې کــــړلو
بـــس پـــه همـــدې چـــل مو ســـرونه ښـــکارکوی جنګـــو کې

ازمايښـــت ځـــای شـــوه اندړوالـــه دغـــه ښـــکلې خـــاوره
هرپرديپـــال نـــوې وســـــله امتحـــانوي جنګـــو کـــې

## غزل

دځـان پـه پیژنـدلو کـې پـه ځـان کـې شـو سـپین ږیـري
ددې وطـن پـه درد او پـه درمـان کـې شو سـپن ږیـری

پـه تمـه د سـو چه سـپیڅلې سـولې موو خـت تیر کـه
هغـه هـم ملـک تـه رانغـله ارمـان کـې شو سـپین ږیـري
تـازه مـړ کـړم پـه نـورو اوماتـه مـړ کـړې پـه نـورو
دداسـې قصـابیو پـه میـدان کـې شـو سـپین ږیـري
د کـارزلمي موخـه مـړه څـه مـزدور شـول دپردیـو
د سرسـړي مویو شـمیرپه زنـدان کـې شو سـپین ږیـري
د تیرلـوی انقـلاب دجهـادو ثمـره داشـوه
چـې وکـړې ګټـې نوروپـه تـاوان کـې شو سـپین ږیـري

خـوږه خـبره دلتـه اندړوالـه شـوله زهـر
مـزه یـې ګـوري نـه پـه ایـن ان کـې شو سـپین ږیـري

# غزل

کـــــوو بـــــه لا تـــــر څـــــو د چـــــا لپـــــاره ژوندګي
بـــې مينـــې بـــې مـــزې شـــوله بـــې يـــاره زنـــدګي

پـــه وربي نـــس بيګـــا يتيم ماشـــوم دا ويـــل مورتـــه
ترکلـــــه بـــــه وې زمـــــونږه دابـــــې پـــــلاره زنـــــدګي
مـــــزه دکلـــو وړانـــدې اوس لـــه کلوورکـــه شـــوې
کـــوي ټـــولې پيغلـــوټې بـــې چينـــاره زنـــدګي
دســـيمې پـــه ملاموښـــکاري څـــه ټکـــه پريـــوتې
چـــې مســـت منصـــورکوی نـــن پـــه کـــراره زنـــدګي
راځـــې چـــې يوســـوچه جهادلـــه خپـــل نفـــس ســـره وکـــړو
کووبـــه تـــل مـــدام پـــه همـــدې لاره زنـــدګي

چـــې راولـــي دې ملـــک تـــه کـــوم يـــوکس دايمـــي ســـوله
قربـــان زمـــا انـــدړوال شـــه تـــرې زرواره زنـــدګي

# غزل

ستړګک مه کوه له دره ځم په لاره ځواني مرګې
کړم توبه د یاراني یم توبه ګاره ځواني مرګې

پخوانۍ ځواني شوه تیره چې سم د م لکه نښتروم
اوس بې واکه او بې زړه یم بې آختیاره ځواني مرګې

سم قدم راسره مه ږده اوس د میني شاعرنه یم
هرغزل مې بې سیلابه و بې قطاره ځواني مرګې

آخر کوم لوري ته لاړ شم سمه لار ده رانه ورکه
رسیدی منزل ته نه شم ستا د پاره ځواني مرګې

لاس د میني مې د رکړی په همدي وعده مې پایم
اندړوال ځمه په عشق کې ترداره ځواني مرګې

www.samsoor.com

## غزل

څــوک بــه خبرشـــي عاشــقي جانانــه څنګــه کيــږي
زماوداســــتاپته خپلــوي جانانـــه څنګـــه کيـــږي

بيګـــامې واوريـــدې دڅـــونهروچيغې پـــه غـــوږ
دې غريـــب چـــم کـــې نوخـــاني جانانــه څنګــه کيــږي
چيرتـــه چـــې خـــوروي دنفـــاق اوورور وژنـــوتږغر
هلتـــه نوژوند دســم ســړي جانانــه څنګــه کيــږي
کلـــي کـــې تنبـــتي لـــه قلـــم اوکتـــابچې څخـــه ډيـــر
وايـــه نـــاپوهو کـــې پـــوهي جانانــه څنګــه کيــږي
زه خوبـــه جوړکړمـــه دکورديـــوال لـــه خـــامو لوتـــو
خودپرديوتوغنـــدي جانانـــه څنګـــه کيـــږي

بنـــارددارو ده اندړوالـــه ورنـــه لـــرې تنبـــته
حريـــف فکرونـــه منصـــوري جانانــه څنګــه کيــږي

www.samsoor.com

## غزل

لـــه ســـپیره وره چـــې راکتـــل کـــوې نومړبـــه مـــې کـــړې
دنـــاز آدا ډک چـــې خنـــدل کـــوې نومړبـــه مـــې کـــړې

دنـــن وعـــده پـــه نـــن صباصـــبا په بلـــه ورځ کـــړې
تـــه پـــه وعـــدوکې ځنـــډول کـــوې نومړبـــه مـــې کـــړې
دښایســـت بـــرج مـــې ســـتایوه آفســـوس کـــه لوټـــه لوټـــه
پـــه توغنـــدي دزړه وشـــتل کـــوې نومړبـــه مـــې کـــړې
دخـــداي لپـــاره افراطـــي لالیـــه مـــه راګـــوره
پـــه تـــش کتواورلګـــول کـــوې نومړبـــه مـــې کـــړې
ګلابـــي رنـــګ مـــې ژړغونوسترګوښـــکارکه پخـــوا
اوښـــکې پـــه ســـپین مـــخ ورول کـــوې نومړبـــه مـــې کـــړې

دژونـــد یـــادودې انـــدړوال کـــړم لیـــوني دوختـــو
ځـــې یارانـــه اوس تـــه دبـــل کـــوې نومړبـــه مـــې کـــړې

## غزل

څـــه بـــد رنګ بـــد رنګ غږونـــه دي تـــرې ځمـــه
پـــه دې ښـــارکې نفرتونـــه دي تـــرې ځمـــه

څـــرک د ســـولې پکـــې هـــيڅ نـــه مـــالومېږي
بـــس پـــه هرکالـــه جنګونـــه دي تـــرې ځمـــه
ډېرفکرونـــــه مـــــولايي او منصـــــوري دي
زوړنـــد مينـــې تـــه دارونـــه دي تـــرې ځمـــه
غږد مينـــې لـــه چـــا نـــه آوريـــدل کيـــږي
خـــواره هرخوا هيبتونـــه دي تـــرې ځمـــه
تنهـــايي دا چـــم آخيســـتي اجـــاره ده
تـــول د هجرما ښـــامونه دي تـــرې ځمـــه
اوف ويرونـــه حاکميـــت کـــړي پـــه خوښـــيو
دلتـــه بـــې حـــده غمونـــه دي تـــرې ځمـــه

عجيبـــه دي اندړوالـــه دلتـــه خلـــک
څـــه بـــل ډول يـــې فکرونـــه دي تـــرې ځمـــه

## غزل

هر څه په ځیر بیانوي شاعر
ځمکه آسمان سره ګنډي شاعر

د کږلیچو شړی د درد غیږه کې
په تار د خیال درته اوبدي شاعر

چې ترجمان شي د حالاتو پاتې
غږ د زړګي او چتوي شاعر

کږې وږې د سیلابه کړښې
چو کاټ د شعر ته راولي شاعر

ژوندي دې وي اې اندړواله درته
چې تا شاعر حسابوي شاعر

## غزل

نــــه ســـــپينه اونــــه تـــوره غـــــنم رنګــــه ده جلـــــۍ
د اســــتا ياري تـــه جـــوړه ســــتا په رنګــــه ده جلـــــۍ

زړګـــي کــه تريـنــه ورک شـــو تنګوه يـــې هســـې مـــه
د مکـــــر او بانونــــه ده لــــګ ګرنګـــــه ده جلـــــۍ
د چادنګــــه ځــــواني رانــــړوي پـــــه اســـــويليو
لاس پورتــــه پــــه ښـــــيرا همدا بد رنګه ده جلـــــۍ
خيـــرات د حســــن ورکـــه ستا درشــل تـــه ده درغلـــې
کچکـــول يـــې دي پـــه ولـــي کـــې ملنګـــه ده جلـــۍ
اخ بيـــــايې پورتــــه کــــړي ده بيـــــرق د زلمکيــــــو
راوتــــې جـــان قربــــان ســــره د جنګـــــه ده جلـــــۍ

وهـــــې ورتــــه زنګونــــه پــــه مبايــــل اندړوالــــه
د اهســـــې توبــــه ګــــاره ســــــتا ترزنګه ده جلـــــۍ

www.samsoor.com

## غزل

دوخت هر انقلاب کې زلمکي زمونږه کلک دي
ټټروهي هرچا سره لالي زمونږه کلک دي

ټکردتورې وسرکې مونږ برياده خپله کړې
تندي وهو تندو سره تندي زمونږه کلک دي

چنګال کې ټولو د پردیپالونه سرونه
جګړې دعقيده کې ډيرزړګي زمونږه کلک دي

ګونډو باندې دي تلي په پښو چې و راغلي
جهادکې کلي واړه پلرني زمونږه کلک دي

پرون پيغلوناري کړې چې مونږ ځودجنګ ډګرته
دغرب دام شانزده نه شنه بنګړي زمونږه کلک دي

www.samsoor.com

## غزل

سري دلته زښته زيات دي
د کار خلک پکې قات دي

هر سه زغمي بې پوښتنې
دا پيدا داسې د ذات دي

خوله کې يې نور وهي لاسونه
ښکاري ټول غاښونه يې مات دي

خپه خپل بل ته خوشال وي
پردي زهر ورته شات دي

لنډ دې بيت که اندرواله
د شعر کم دې خيالات دي

www.samsoor.com

# غزل

ژوند یو ځلي بیا راسره شپه وکړه
هاغې لیونۍ چې اشاره وکړه

ما ورته ټول راز د اوسیدو وویل
دې ناداني ټول چم ته کیسه وکړه
ښایي چې بیا حال چا ته ونه وایي
دا یې راسره کلکه وعده وکړه
ډېره یې پخه کړه پرې د عشق ډوډۍ
زما زړګي تنور غوندې لمبه وکړه
هسې په وړه خبره خپه شوله
ویل یې ځه بل چیرته یارانه وکړه

نن پسې ویر جن اندړوال چم کې شه
تا نه خپلې مینې مخه ښه وکړه

www.samsoor.com

## غزل

چې ستا په مینه کې لالي شي سړی
څنګه به بیا له تا پردی شي سړی

هغه به څه د آرمان چیغې کويي
چې خپله زړونو کې زړګي شي سړی

هره شیبه ورته هجران ښکاريګي
کله چې یار ځنې پردی شي سړی

په سرولاس ونوبه شرنګاري کوي
چې د لیلا دلاس بنګړی شی سړی

وبه يې نه ګورې په لوی بغلان کې
چې اندړوال غونډې زلمي شی سړی

www.samsoor.com

## غزل

څوک چې په مینه کې ناکام شي هغه ماغوندې شي
ژوند یې لمبه لمبه تمام شي هغه ماغوندې شي

چې په یو چا باندې مین شي په مینه کوڅه
د ټولو خلکو ورته پام شي هغه ما غوندې شي
کولال د حسن یې پخوالي ته حیران پاتې ش
چې د لیلا په ختہ خام شي هغه ما غوندې شي
دوخت هډوکو ته یې طبیب د ژوند هک پک پاتې سي
چې راخطا د عشق له بام شي هغه ما غوندې شي
په رڼه ورځ به ګوري ټول د نیمې شپې خوبونه
هجري سحرورته ماښام شي هغه ماغوندې شي

ټول ثوابونه اندړوال په دعاوو واخلي
چې د ښایسته و څوک امام شي هغه ماغوندې شي

www.samsoor.com

## غزل

د مینې په آسمان چې ستوري وشپې خبرې وکړي
خندا شي خوشالي شي آینې خبرې وکړي

سړی چې له سړونه سړیپالي ځیرې واخلي
سړي له غمه مړه شي څو سړې خبرې وکړي
یوسف د هیلو ورک د کنعانونو تناره کې
یعقوب په سوو سترګو کې لمبې خبرې وکړي
له لپونه چې مست مست غزلونه کډې بارکړي
مجبور ګونګ غزلونه شي تپې خبرې وکړي
د مینې مینتوب او شاعري په اورچې وسوي
سړی تجربه کاره شي پخې خبرې وکړي

دوخت د هجرانو به اندړوال له لرې ستون شي
لیلا چې خپل مجنون ته په کوڅې خبرې وکړي

## غزل

لکـــه څـــو هیلـــې چـــې د چـــا د ننـــه زړه کـــې ســـوځي
داســې مــې اوښــکې دوجــود پــه ګریوانــه کــې ســوځي

دښایســت بــرج نــه دې شــغلې دښــکلاګانو وځــی
پــه تــا بــا یللي زړونــه خلــک ســتا پــه وره کــې ســوځي
د مــخ لمبــو تــه پــوکی مــه ورکــوه خــوږه یــاره
زمــا ځیکــر دې دهجــران پــه تنــاره کــې ســوځي
ګــوره را پریوځــه اســمانه د ازاره ډک ســوې
مینــې مینــې دې د اوښــکو پــه کالــه کــې ســوځي
زه کــه رب ســتا کــړم تــه زمــا شــوې وه پــه مــا مینــې
پــه هغــه ورځ بــه مــو ډیــر خلــک پــه واده کــې ســوځي

دشــعر ګرمــې دې اندړوالــه لــه مــودو پیــل ســوې
خــود بــه نــواوس پکــې څــو انجــونې لمرخاتــه کــې ســوځي

## غزل

لړپه ما پام کوه زه هر چا ته ښاغلی یمه
سترګې را واړه په غم دې اړولی یمه

د هجر ثار دې دو ختو په سکرو وداغلم
یاره ظالمه دا ثه اورته دې نیولی یمه
دځان قاتل رانه دخپل وجود رګوکې ورک ده
افغانستان شومه هر چا تروس رټلی یمه
دسترګو دید ته دنړۍ ځکه فن کار ښکار مه
ټکر د تورو سرکې ټولو پیژندلی یمه
اخ راته ووایه چې څنګه زندګي وکړمه
اوف د پخوانه مې زه خپل لالاوژلی یمه

نور د چا زړه کې اندړوال لا رې نه ثارمه
پرون له بامه دښایست چا غورزولی یمه

## غزل

نوی د ځوانۍ په شراو شور ده درپکار به شي
بې ګناه یې مه وژنه ستا وروړ ده درپکار به شي

بم د پردي مه راوړه دا چم وربانديې مه نړو
جوړ پکې زما د ختو کور ده درپکار به شي

یو وخت به د ژوند د سړو مات هر بغاوت پرې کړي
مه پوه کوه زما لاسو کې اور ده درپکار به شي

تول پښتون تاجک ایماق کجر سره یو موټی کړه
هر یو دې د خپلو لاسو زور ده درپکار به شي

دوه ورځې د نیا ده اندړواله نیک عمل کوه
ځې هغې دنیا ته ځای دې ګور ده درپکار به شي

www.samsoor.com

## غزل

وخته هر يو شور ته دې سکون شومه
ستړی او ستومانه په ژوندون شومه

ته هم کور کمن غونډې رب ژير کړلې
زه هم په ملا کوږ لکه سين نون شومه

باز دغره يا غي ومه خپلواک ژوند کې
تا باندې مين شومه مجنون شومه

زغرده دې د حسن وعده ګکې کړه
پوخ زه په لفظونو درته يون شومه

ستړو قافلو مې هيلې لوټې کړې
پاتې بې له هيلو تش تړون شومه

لاړ به شي ډير خلک اوس په پل زما
سم دم دې سړيو ته قانون شومه

خلاص به يې ګناه نه په توبو نه شي
غيږ کې دې د کوم خوارکي خون شوم

پيايم اندړوال دې د ښايسته رمې
پلار سره دې ستا په ديدن شپون شومه

www.samsoor.com

## غزل

د مــخ پــه غــره کــې مــې وهلــې دي خيمــې دمينــې
د زړه پـــه دښـــتنه کـــې دې پيايمـــه رمـــې دمينـــې

ســـتړو کوچيـــانو پکـــې نـــوي کـــورکي جـــوړ کـــړي
جانانـــه راشـــه ســـره وکـــړو پکـــې شـــپې د مينـــې
نيـــغ بـــه دروګـــوري لمبـــه وجودبـــه خپـــل ووينـــې
واخلـــه لاســـونوته رڼـــې رڼـــې آينـــې د مينـــې
پـــه لاره درومـــم يـــاغي کلـــي کـــې پښـــو تـــه ګـــورم
شـــيندلې دلتـــه څـــو مينـــو دي کـــوکې د مينـــې
د وجـــود مـــلا مـــې د وختـــو ډيـــرو غمـــو کـــړه ماتـــه
پـــه دې ســـپيرې اوږې مـــې وړي جنـــازې دمينـــې

نـــوی پيغلـــوتې پـــه بلـــې کـــړي ديـــارۍ غوښـــتنه
مـــا انـــدړوال پخـــوا ويســـتلې دي تـــوبې دمينـــې

www.samsoor.com

# غزل

لکه اوښکه دې د سترګو له آسمانه
رالويدلي يم دروا مې خله جانانه

د تتېر دښتې دې وچې بې لمه نمه
نه لمدېږي بې د سترګو د بارانه
ديقين لاروي ډېر پکې تيرېږي
دغه لار په چاودانه په چا ورانه
دوجود په دايره کې دې بندي يم
ترينه وځمه ونه وايې ناځوانه
دماښام په تار دې وتړم تورتم ته
دوختو په شوم ځم تر زندانه

عجيبه دي ددې ښار ميني بې مينې
سړی وژني په کتوکې زيات اسانه

www.samsoor.com